بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۲ سلواغه ۱۴۰۳ هـ ش | ۲۰ رجب المرجب ۱۴۴۶ هـ ق | ۲۱ جنورى ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۸۸)

**د هستي نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د اداري مرستيال په مشرۍ قضائي پلاوی ايران ته روان شو

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د اداري مرستيال محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په مشرۍ لوړ رتبه قضائي پلاوی په (۱۴۴۶/۷/۱۶ هـ ق) نېټه له اړوند لوړ رتبه ايراني مسؤولينو سره د ليدنې په موخه تهران ته روان شو.

ايران هېواد ته د اسلامي امارت د سترې محکمې د ياد پلاوي د سفر عمده موخې د دواړو هېوادونو ترمنځ په قضائي برخه کې د همکاريو ټينګښت، په ايران کې د افغان زندانيانو د حقونو تأمين، د دواړو هېوادونو ترمنځ حسن تعامل، په ايران کې پر اعدام د محکومو افغانانو لپاره د اعدام بديلې لارې لټول او د زندانيانو استرداد دی.

د سترې محکمې دغه قضائي پلاوی به د خپل دوه ورځني سفر په جريان کې د ايران د عدليې له محترم وزير، د محکومينو د استرداد کمېټې له محترم رئيس او نورو لوړ رتبه مسؤولينو سره د يادو موضوعاتو اړوند هر اړخيزې خبرې وکړي.

د يادونې وړ ده چې د سترې محکمې د اداري مرستيال محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په مشرۍ دغه قضائي پلاوي په تشکيل کې د سترې محکمې د مرکزي تميز عالي رياست رئيس محترم شيخ محمد شريف (حقاني)، د سترې محکمې د جزا ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش)، د سترې محکمې د مرکزي قضائي تفتيش عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن (فراهي)، د سترې محکمې د حقوقو عمومي رئيس محترم مفتي محمد ابراهيم جان (ابوالحفاظ)، د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رئيس محترم مولوي عبدالرحيم (راشد) او د بهرنيو چارو وزارت د قونسلي چارو عمومي رياست مرستيال محترم مولوي يارمحمد (حقمل) ګډون لري.

## د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې قضائي پلاوي تهران کې د ماشومانو له زندان څخه ليدنه وکړه

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په مشرۍ قضائي پلاوي په (۱۷ /۷ /۱۴۴۶ هـ ق) نېټه د ايران د زندانونو تعليمي او روزنيزو چارو د رئيس او نورو مسؤولينو سره د ليدنې وروسته د کم عمره کسانو له زندان «کانون اصلاح و تربيت» څخه ليدنه وکړه.

د سترې محکمې د قضائي پلاوي غړو له ياد زندان څخه د ليدنې پر مهال له افغان زندانيانو سره هم ملاقات وکړ، د دوی د ستونزو او غوښتنو پر اورېدو سربېره يې د هغوی وضعيت له نږدې وکاته.

د افغان اسلامي امارت د سترې محکمې قضائي پلاوي مشر محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) صاحب له اړوند ايراني مسؤولينو غوښتنه وکړه چې ايران کې د ټولو افغان زندانيانو په ځانګړې توګه کم عمره زندانيانو ستونزو ته رسېدنه وکړي، دوی ته په تعليمي او حرفوي برخو کې د زده کړو زمينه برابره کړي.

د ايران د زندانونو تعليمي او روزنيزو چارو مسؤولينو د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې له قضائي پلاوي سره د ايران هېواد د ټولو زندانونو په اړه معلومات شريک کړل او د ماشومانو د ياد زندان څخه يې د نږدې ليدنې زمينه برابره کړه.

دغه راز نوموړو ژمنه وکړه چې دلته د موجود زندانيانو لپاره په بېلا بېلو برخو کې د حرفوي، بدني او تعليمي زده کړو د زمينې برابرولو په موخه له ټولو شته امکاناتو استفاده کوي.




## د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې (۳۶۲۱) دوسيو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست اړوند د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې له (۲۱/ ۵/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۲۱/ ۶/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۳۶۲۱) دوسيو او عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

د عرض‌پاڼو په برخه کې:

د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۲۱۸۰) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۱۱۵) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۵۸۸) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۱۲) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۳۶۵) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض‌پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

د دوسيو په برخه کې:

د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۱۴۴۱) دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۱۲۱) دوسيې تطبيق شوې، (۴۷۲) دوسيې محاکمو ته لېږل شوې، (۲۴۲) دوسيې نورو ادارو ته راجع شوې، (۶۰۶) دوسيې حفظ شوې او پاتې دوسيې تر اجراآتو لاندې دي.

## گزارش اجراآت عمدهٔ رياست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱۴۰۳ هـ ش

رياست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱۴۰۳ هـ ش اجراآت ذيل را انجام داده‌است.

**آمريت فرهنگی و مطبوعاتی:**

- ترتيب و تهيهٔ (۴۸) برنامهٔ ستره محکمه در جريان يک هفته به چهار زبان (پشتو، دری، عربی و انگليسی) و نشر آن از طريق صفحات اجتماعی.
- ترتيب و ديزاين (۷۶) شماره بلوتن خبری.
- تنظيم (۳) پروگرام کميتهٔ رؤيت هلال و نشر آن از طريق صفحات اجتماعی.
- ديزاين و تهيهٔ (۵۲) قطعه کارت‌های وسايط امارتی و شخصی برای منسوبين ستره محکمه.
- ترتيب، ديزاين و نشر (٦) کليپ اقوال وافکار قاضی القضات شيخ صاحب از طريق شبکه‌های اجتماعی.
- ترتيب و نشر برنامهٔ معرفی رياست حقوق ستره محکمه به زبان های دری و پشتو.
- ترتيب، ديزاين و نشر (۳۱۲) اخبار روزانهٔ محاکم ولايات، رياست های مرکزی و ديوان‌های ستره محکمه.
- ترتيب و ديزاين (١٥٦) انفوگرافيک و نشر آن از طريق رسانه های اجتماعی.
- ثبت اديت و نشر يک گزارش از جريان امتحان قضائی در رياست تعليمات قضائی.
- ترتيب و ديزاين (٩٤) عدد پوستر از خلاصهٔ اجراآت محاکم و نشر آن از صفحات اجتماعی ستره محکمه.
- ثبت اديت و نشر سيمينار ارتقای ظرفيت آمرين دواوين ستره محکمه.

پاتې برخه ص۲

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**۷- معقل بن يسار رضي الله عنه:**

**لومړۍ برخه**

شهرت يې په لاندې توګه دی:

معقل يسار، هغه د عبدالله، هغه د معبر، هغه د حراق، هغه د لأي، هغه د کعب، هغه د عبد، هغه د ثور، هغه د هذمة، هغه د لاطم، هغه د عثمان، هغه د عمرو، هغه د أد، هغه د الياس، هغه د مضر زوی دی، چې د مزن قوم څخه او ابو عبدالله يې اسم کنيه و.

د رسول الله ﷺ ملګرى پاتې شوى او بيعت الرضوان کې يې ګډون کړى، چې خپله له ده څخه روايت دى، چې وايي:«موږ پر دې بيعت وکړ، چې تېښته به نه کوو».

او بصره کې اوسېدی، چې بصره کې موجوده وياله ده ته نسبت کيږي، چې نهر معقل يې بولي او همدلته بصره کې د معاويه رضي الله عنه د خلافت وروستي وخت کې وفات شو او ځينو ويلي چې د يزيد بن معاويه په وخت کې وفات شو.

اخذليک: تتمة النظام، ۵۱ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## گزارش اجراآت عمدهٔ ریاست ارتباط خارجه،...

●دیزاین (۵۱) تاریخ ایام هفته و نشر آن از طریق صفحات اجتماعی ستره محکمه.

●دیزاین دستاوردهای ماهوار و ربع وار برخی ریاست های مرکزی ستره محکمه.

●تعین هیئت بخاطر جمع آوری کتب اضافی ریاست‌های مرکزی ستره محکمه و تسلیمی آن به مدیریت کتابخانه قضاء.

●تهیه، ترتیب و چاپ ششمین شماره مجله قضاء که در آن برعلاوه نشر مضامین شرعی، حقوقی و قضائی خلاصه راپور اجراآت ربع اول ۱٤۰۳ هـ ش ریاست های مرکزی ستره محکمه،محاکم ابتدائیه، مرافعه و تمیز محاکم امارت اسلامی افغانستان نیز شامل می باشد.

●در جریان ربع دوم سال ۱۴۰۳ هـ ش (۸) شماره جریده میزان از شماره (۷۷ الی شماره ۸٤) شامل گزارشات کاری محاکم امارت اسلامی افغانستان چاپ و به نشر رسیده که به وقت معین به محاکم و ادارات امارت اسلامی توزیع گردیده است.

●در جریان ربع دوم سال ۱۴۰۳ هـ ش (۸) برنامهٔ اخبار میزان ثبت و از طریق رادیو تلویزیون ملی، رادیو شریعت غبر و صفحات رسمی ستره محکمه تحت پوشش و نشر قرار گرفته است.

**در بخش کتابخانه:**

در جریان ربع دوم سال ۱۴۰۳ هـ ش به تعداد ۲۰۰ جلد کتب در دیتابیس کتابخانه ادیت و ثبت، ۱۰۰ جلد اصولنامه و لایحه به مراجع ذیربط توزیع شده است،۹۲ جلد به منسوبین امانت داده شده است، همچنان نظر به هدایت مقام محترم ستره محکمه الماری های کتابخانه به دیزاین جدید ساخته و تمام کتب آن به همکاری رئیس صاحب ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات و سایر همکاران این ریاست تنظیم و بخش بندی گردیده که کار تنظیم و بخش بندی آن ۸۰ فیصد به اتمام رسیده است ان شاء الله با نصب الماری های جدید، کتب آن در بخش های مربوط جا بجا و مورد استفاده قرار میگیرد.

**آمریت ارتباط خارجه:**

●همکاری با بخش‌های سیاسی و قونسلی وزارت امور خارجه در مورد سفر مسؤولین محترم ستره محکمه به کشور ایران.

●تنظیم و هماهنگی نشست ها با رسانه های ملی و بین المللی در بخش‌های مختلف.

●ترجمهٔ ایمیل‌ها و مکاتیب خارجی دریافتی.

●هماهنگی در مورد نشست های مرتبط به سفرهای آینده و نشست های مقامات برای بهبود امور رسمی با وزارت امور خارجه.

●صدور مکاتیب مربوط به پاسپورت ها برای کارکنان اداری، قضائی و نظامی ستره محکمه.

●تائید اسناد خارجی، مهر ها و امضاء ها توسط محاکم مربوطه.

●رسیدگی به مکاتبات مربوط به موضوعات حقوقی و جنائی که از کشور های خارجی به وزارت امور خارجه ارسال می‌شود.

●تبادله (٤) ایمیل با سفارت خانه‌های بین المللی.

●اجراآت اصولی در رابطه به (۲۹۱) قطعه مکاتیب قضایائی جزائی، حقوقی، فامیلی، جنائی، ثبت محفوظ تذکره وپاسپورت اتباع خارجی، ثبت محفوظ نکاح خط اتباع کشور، جلب اتباع کشور ازخارج ازکشور، پاسپورت های سیاحت منسوبین ستره محکمه، استرداد مجرمین، وثایق، نظرهای تدقیقی، انتقال جنازه های اتباع افغانی به کشور، چگونگی گرفتاری مجرمین خارج از کشور، زندانی شدن اتباع افغانی درخارج از کشور، وکالت های خارج اتباع کشور و موضوعات مرتبط دیگر آمریت ارتباط خارجه.

**آمریت طباعتی و نشراتی :**

●ترتیب و تنظیم مکاتیب، ، حواله های اجناس، مکاتیب کمیته رؤیت هلال و سایر امور اداری، ترتیب، تنظیم و انتقال کتب، قوانین، مجلات و سایر انتشارات و اوراق از ذخایر ریاست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات در مکان محفوظ .

●چاپ اسناد کارمندان ستره محکمه.

**مدیریت توزیع:**

●طی این مدت هفت (۷) جریده میزان از شماره (۷۷ الی ۸٤) مجموعاً به تعداد (۱۰۵۰۰) شماره به تمام محاکم مرکز وولایات، مقام و معاونیت های ریاست الوزراء، ریاست های عدلیه ولایات، ریاست های اطلاعات و فرهنگ، ریاست‌های نشرات وزارت خانه‌ها و ادارات مستقل دیگر امارتی توزیع شده‌است.

●طی این مدت شماره ششم (٦) مجلهٔ قضاء از چاپ فارغ و به تعداد (۲۰۰۰) جلد به تمام محاکم مرکز وولایات، مقام و معاونیت های ریاست الوزراء، مقام ولایات، ریاست های عدلیه ولایات، ریاست های اطلاعات و فرهنگ، ریاست‌های نشرات وزارت خانه‌ها و ادارات مستقل دیگر امارتی توزیع شده‌است.

●طی این مدت (۵۰) عنوان کتب مختلف النوع: ردالمحتار علی الدرالمختار، بدائع الصنائع، جامع الفصولین، فتاوی الهندیة، فتح القدیر، ارتش شیطان، حق المبین، امارت شناسی، د دوحی ترون و غیره مجموعاً به تعداد (۱٦٦۸) جلد به تمام دواوین و ریاست های مرکزی ستره محکمه توزیع شده‌است.

**مدیریت طباعتی :**

در بخش فوتوکاپی: به تعداد( ۷۰۹۸۰ ) ورق طبق پیشنهادات ریاست های دفتر مقام عالی ستره محکمه، ریاست عالی تمیز، دواوین ستره محکمه، ریاست دارالانشاء، ریاست عمومی تدقیق و مطالعات، ریاست دعوت و ارشاد، ریاست تعلیمات قضائی ، قطعه امنیتی ستره محکمه و سایر ادارات ستره محکمه چاپ و صحافت گردیده است که از جمله ٦٦ جلد قوانین مختلف، ۱۱۵ جلد اصولنامه اداری و حقوقی، ۲۱٦ جلد نصاب درسی ریاست دعوت و ارشاد، ۵۲۸ جلد کتب تمسک القضات، زادالافتاء، املاء و الترقیم، اصولنامه برای سیمینار تعلیمات قضائی، ۱۷۲ جلد تکت دخولی و خروجی مراجعین، ٤۰ جلد کتب پیشنهادات ادارات ستره محکمه، جمله (۱۱۳۸) جلد چاپ، صحافت و به اختیار ادارات قرار گرفته است، همچنان ۹۰ جلد دفاتر سوانح کارمندان ستره محکمه پوش و صحافت گردیده‌است.

## په غزني ولايت کې يوه مجرم ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د غزني ولايت د مقر ولسوالی ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې يو کس ته د بداخلاقي په جرم په ۶/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

د مقر ولسوالی ابتدائيه محکمې ياد مجرم پر څلور کاله تنفيذي بند او ۳۹ دُرو تعزيري سزا محکوم کړی و؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرم تطبيق شوه.

## په پکتيا ولايت کې يوه متهم ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د پکتيا ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې د جزا دېوان د پرېکړې له مخې يو کس ته چې پر غلا متهم و؛ په ۷/ ۷/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

د ښاري ابتدائيه محکمې د جزا دېوان ياد متهم پر يو کال تنفيذي بند او ۳۹ دُرو تعزيري سزا محکوم کړی و؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائيد وروسته پر متهم تطبيق شوه.

د تعزيري سزا د تطبيق په موخه جوړه شوې غونډه کې د مرافعه محمکې او ښاري ابتدائيه محکمې مسؤولينو، مراجعينو او ګڼ شمېر عامو هېوادوالو ګډون درلود.

غونډه د تعزيري سزا له تطبيق وروسته د دعا په ويلو پای ته ورسېده.

## محترم مولوي صنيع الله (فرهمند) د پکتيا زون نظامي محکمې د نوي رئيس په توګه معرفي شو

د پکتيا زون نظامي محکمې نوی رئيس محترم مولوي صنيع الله (فرهمند) د روان ۱۴۴۶هـ ق کال د رجب المرجب مياشتې په ۱۲ مه نېټه د يوې غونډې په ترڅ کې چې د مرافعه محکمې د غونډو په تالار کې جوړه شوه؛ معرفي او رسماً يې دنده پيل کړه.

په دې غونډه کې د سترې محکمې نظامي مرستيال محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب، د مرافعه محکمې عمومي رئيس الحاج مفتي عبيدالله (خالد)، د پکتيا زون نظامي محکمې پخوانی رئيس مولوي عبدالهادي (همت)، امنيه قوماندان مولوي محمد عمر (مخلص)، د استخباراتو رئيس مولوي (عبدالهادي)، د مرافعه محکمې مرستيال مولوي واحدالله (صديقي)، د ښاري ابتدائيه محکمې رئيس مولوي محمد رحيم (نعماني)، د نظامي محکمې قضائي او اداري غړو، د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو د دېوانونو رئيسانو، قضائي غړو او اداري کارکوونکو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې نظامي مرستيال محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب خبرې وکړې وويل، د اسلام مبارک دين د نصحيت دين دی، اسلامي امارت يو ښايسته نظام دی، موږ بايد د لوی الله (جل جلاله) دا احسان ومنو چې موږ يې د اسلامي امارت او اسلامي نظام خدمتګاران او مسؤولين ټاکلي يو.

محترم شيخ (خيرخواه) صاحب زياته کړه، د اسلامي امارت په ادارو کې د دندې ترسره کول مسؤوليت دی، هر مسؤول بايد خپل مسؤوليت په ښه توګه ادا کړي او احساس د مسؤوليت بايد ولري، که چېرې تاسو غواړئ چې په افغانستان کې اسلامي نظام بقاء پيدا کړي، نو بايد د خپلو مشرانو اطاعت وکړئ او د اسلامي احکامو سره سم خپلې چارې پرمخ يوسئ.

د سترې محکمې نظامي مرستيال وويل، خوښ يم چې په پکتيا ولايت کې مې د نظامي محاکمو د مسؤولينو د معرفت غونډه کې ګډون کړی، وروسته يې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د پکتيا زون او کندوز زون د نظامي محاکمو د مسؤولينو د بدلون حکم ګډونوالو ته واوراوه.

دغه راز محترم خيرخواه صاحب د پکتيا زون د نظامي محکمې د پخواني رئيس له کړنو څخه مننه وکړه او د پکتيا زون د نظامي محکمې نوی رئيس يې د غونډې ګډونوالو ته معرفي کړ او په نوې دنده کې يې ورته د توفيق غوښتنه وکړه.

د غونډې په وروستيو کې نوي او پخواني رئيس د مسؤوليت اړوند هر اړخيزې خبرې وکړې.

غونډه د دعا په ويلو پای ته ورسېده.

## د کابل ولايت ښاري ابتدائيه محکمې څلورو زونونو او د ولسواليو ابتدائيه محاکمو اداري کارکوونکو ته سيمينار پيل شو

د سترې محکمې د ظرفيت لوړونې او اجراآتو ارزونې رياست لخوا د کابل ښاري ابتدائيه محاکمو څلورو زونونو او د ولسواليو ابتدائيه محاکمو اداري کارکوونکو ته په ۱۴۴۶/۷/۱۰هـ ق نېټه د اداري اجراآتو د زده کړې په موخه روزنيز سيمينار چې درې اونۍ به دوام ولري؛ پيل شو.

په دې موخه جوړه شوې غونډه د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې ګډونوالو ته د استادانو لخوا د سيمينار په موخو او ارزښت خبرې وشوې او ورته وويل شول چې په دغه سيمينار کې به د اداري سيستم مسلکي مهارتونه، اداري مراسلات، پلان جوړونه، اړيکې، د راپورونو ترتيب او داسې نور اړين موضوعات تدريس کېږي.

د غونډې په دوام استادانو له ټولو ګډونوالو وغوښتل چې سيمينار ته په ټاکل شوي وخت حاضرېږئ او له ياد سيمينار څخه د خپل ظرفيت لوړولو په موخه ښه استفاده وکړئ.

## محاکم ولایات لغمان و غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۰۳) دوسیه، به تعداد (۴۰۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایات لغمان و غزنی، دواوین محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۱۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم ولایات لغمان و غزنی گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۳۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸۶) دوسیه فیصله شده، (۴۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۶۰) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم ولایات لغمان و غزنی گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۱۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایات لغمان و غزنی به تعداد (۴۰۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۸۳) دوسیه، به تعداد (۵۰۹) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۵۶۷) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۳۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴۷) دوسیه فیصله شده، (۵۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۱۶) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۸۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۴) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۵۰۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۷۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د پکتیا زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۲۷۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۸) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې د پکتیا ولایت محاکمو ته (۱۴۹) حقوقي دوسیې راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۲) دوسیې فیصله شوې، (۲۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې د پکتیا ولایت محاکمو ته (۱۰۹) جزائي دوسیې راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۰۸) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کابل ولایت د مرافعه محکمې دیوانونو په دوو اونیو کې (۱۴۹) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت د مرافعه محکمې دیوانونو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې) پورې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې (۱۴۹) دوسیو ته رسېدنه کړې، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**۱ - د دې محکمې د جزا دیوان:**

د جزا دیوان ته په دوو اونیو کې (۴۵) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۴) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. د دې محکمې د عامه امنیت دیوان:**

د عامه امنیت دیوان ته په دوو اونیو کې (۱۱) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیه فیصله شوې، (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. د دې محکمې د نظامي منسوبینو دیوان:**

د نظامي منسوبینو دیوان ته په دوو اونیو کې (۸) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیه فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۴. د دې محکمې مدني دیوان:**

مدني دیوان ته په دوو اونیو کې (۴۹) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیه فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۵. د دې محکمې تجارتي دیوان:**

تجارتي دیوان ته په دوو اونیو کې (۴۷) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۶۵۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۴۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۲۶/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه تر ۸ /۷/ ۱۴۴۶ هـ ق) نېټې پورې (۶۵۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۴۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۱۴) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۹۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲۱) دوسیې فیصله شوې، (۶۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۶۸) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۳۴۹) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت کاپیسا طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۴۳) دوسیه، به تعداد (۵۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۸) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد شده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۵۶) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## د کابل ولایت اختصاصي محکمې په یوه میاشت کې (۹۶) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت اختصاصي محکمې له ۱ /۶ /۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰ /۶ /۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې (۹۶) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

د کابل ولایت اختصاصي محکمې ته په یوه میاشت کې (۸۴) دوسیې واردې شوې په داسې حال کې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۵**

**نېټه:۱۴۴۶/۷/۳ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د مجاهدینو سره د قاچاقبرانو مسلحانه برخورد په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام حکم.

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم نمبر (۳۷۵/۲۷۰۸) مؤرخ ۱۴۴۶/۵/۲۷ هـ ق په اساس د (۱۳) منظور شویو پرېکړو کې د محاکمو متعلق دوه پرېکړې (دولسمه، دیارلسمه) وې چې داسې صراحت لري:

«دولسمه پرېکړه: دا چې په هلمند او نیمروز ولایتونو کې قاچاقبران له مجاهدینو سره مسلح برخورد کوي او په دې لړ کې ځینې مجاهدین شهیدان او ټپیان شوي هم دي او مجاهدین که دفاع کوي، قاچاقبران ترې ویشتل کیږي، چې بیا د محاکمو له لوري مجاهدین بندیانیږي، په دې هکله دې محکمې پوره تحقیق کوي او د شریعت مطابق دې موضوع حل او فصل کوي.

دیارلسمه پرېکړه: د مخدره توکو اړوند چې کومې جزاګانې تعین شوي دي، هغه دې په جدیت باندې تطبیق شي.»

بناءً د محاکمو متعلق یادې پریکړې ددې متحدالمآل په توسط د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شوې.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۶**

**نېټه:۱۴۴۶/۷/۵ هـ ق**

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د رویت هلال د کمیټې د ترکیب په اړه د سترې محکمې محترم عالي مقام حکم.

د سترې محکمې محترم عالي مقام د حکم مؤرخ ۱۴۴۶/۷/۳ هـ ق په توسط داسې هدایت وکړ: "د رؤیت هلال مرکزي کمیټې په میاشتنیو ناستو کې دې د علماوو شورا عمومي رئیس د یادې کمیټې د غړي په توګه ګډون کوي همدارنګه د ټولو ولایتونو او ولسوالیو د علماوو شورا لخوا دې د ټولو ولایتونو او ولسوالیو د رؤیت هلال کمیټو ته یو یو نفر معرفي شي ترڅو د رؤیت هلال کمیټو سره د میاشتې لیدلو د اهتمام په وخت کې د یادو کمیټو سره په هماهنګۍ په یاد مجالسو کې ګډون وکړي."

بناءً یاد حکم ددې متحدالمآل په توسط د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شو.

## د سترې محکمې قضائي پلاوي د ایران د قضائیه قوې د نړیوالو چارو له مرستیال سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د اداري مرستیال محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په مشرۍ قضائي پلاوي تهران ته د سفر په جریان کې، په (۱۷ /۷ /۱۴۴۶ هـ ق) نېټه د ایران د قضائیه قوې د نړیوالو چارو له مرستیال ښاغلي کاظم غریب آبادي سره وکتل.

په دې لیدنه کې دواړو لوریو د افغانستان اسلامي امارت او ایران هېواد ترمنځ پر قضائي او عدلي برخو کې د همکاریو پر ټینګښت سربېره، ایران کې پر اعدام د محکومو افغان زندانیانو لپاره د اعدام پر بدیلو لارو او هلته د مېشت افغان کډوالو پر حقونو خبرې وکړې.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په دې لیدنه کې له ایراني مسؤولینو غوښتنه وکړه چې په ایران کې د افغان زندانیانو په ځانګړې توګه پر اعدام د محکومو زندانیانو لېست له افغانستان سره شریک کړي.

دغه راز محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب وویل، اعدام تعزیري سزا ده او د اسلام مبارک دین په تعزیراتو کې قاضي ته یو شمېر صلاحیتونه ورکړي دي؛ بناءً له ایراني مسؤولینو زموږ غوښتنه داده چې پر اعدام له محکومو افغان زندانیانو سره د اسلامي اخوت له مخې نرمي وکړي او د حسن تعامل له مخې د اعدام پر ځای ورته بدیلې لارې ولټوي.

دغه راز د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اداري معاون ایران کې د افغان کډوالو په اړه خبرو کې وویل، ایران باید دغه هېواد کې مېشت افغان کډوالو ته د زده کړو، کار او نورو هغه حقونو چې شریعت ورکړي؛ تأمین کړي، بې محکمې باید کوم افغان ونه نیول شي او له ځورولو څخه دې ډډه وشي.

د ایران اسلامي جمهوریت د قضائیه قوې د نړیوالو چارو مرستیال ښاغلي کاظم غریب آبادي د اسلامي امارت د سترې محکمې له پلاوي مننه وکړه چې د افغانستان او ایران ترمنځ په قضائي برخو کې د همکارۍ په موخه یې دغه هېواد ته سفر کړی دی.

ښاغلي غریب آبادي ایران کې د افغان زندانیانو په اړه خبرو کې ژمنه وکړه چې نږدې راتلونکي کې به (۱۵۰۰) افغان زندانیان افغانستان ته انتقال کړي.

نوموړي افغان پلاوي ته ډاډ ورکړ چې هڅه کوو په ټولو برخو کې له افغانانو سره حسن سلوک او نرمي وکړو.




## د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلور زونونو په دوو اونیو کې (۱۱۹۵) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو په دوو اونیو کې په جزائي، حقوقي او تجارتي برخو کې د ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې (۱۱۹۵) دوسیو ته رسېدنه کړې ده، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۴۲۴) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۳۱) دوسیې فیصله شوې، (۴۹) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲. په حقوقي برخه کې:**

د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۲۶۲) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۹) دوسیې فیصله شوې، (۲۷) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳. په تجارتي برخه کې:**

د کابل ښاري ابتدائیه محکمې اړوند څلورو زونونو ته په دوو اونیو کې (۳۰۴) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۴۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۵) دوسیې فیصله شوې، (۱۵۹) دوسیې مکتوبې اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc۱٤٤۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳